## د مسلمانانو حاکمانو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا!

(ژباړه)

له عایشې صدیقې رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«اللهُمَّ، مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ، فَاشْقُقْ عَلَيْهِ، وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ، فَارْفُقْ بِهِ»** (رواه مسلم)

***ژباړه:*** *یا الله څوک چې زما د اُمت د چارو سرپرستي پر غاړه لري او پر هغوی سختي کوي، ته هم پر هغوی سختي وکړه او څوک چې زما د اُمت د چارو سرپرستي پر غاړه ولري او پر هغوی نرمي کوي، نو ته هم پر هغوی نرمي وکړه.*

**د حدیث مفهوم:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه واکمنانو لپاره د خیر دُعا کړې، چې له مسلمانانو سره نرمي کوي او د هغو کسانو لپاره یې ښېرا کړې، چې د مسلمانانو پر وړاندې سخت او سخت زړي وي.

په پورته حدیث کې عامې کلیمې کارول شوي، چې ټول هغه کسان یې تر مصداق لاندې راځي، چې د مسلمانانو سرپرستي او مشرتوب پر غاړه لري. هغه که د ټولو مسلمانانو، د یوې سیمې، د یوه کلي، د یوې ادارې او آن که د یوې کورنۍ مشر هم وي دغه حدیث ټولو ته شامل دی.

نو هر مشر ته پکار ده چې د دغه حدیث په هنداره کې ځان وګوري، تر څو له خپل لاس لاندې کسانو سره هېڅ ډول ظلم او زیاتی ونه کړي.

**نو اې مسلمانانو!**

اوسني طاغوتي حاکمان چې ستاسو پر سر مسلط شوي، تاسو پرې باندې ابتلاء(امتحان) کېږئ. هغه حاکمان چې د مسلمانانو له خوښې پرته د ملت پر غاړه په زور او ظلم حاکمیت کوي، د مسلمانانو پر وړاندې له هر ډول ځورونې مخ نه اړوي؛ آن دغه کار د خپل ځان حق بولي.

د دې اُمت د بچیانو تر منځ په مختلفو نومونو دښمنی او شخړې را منځ ته کوي او یو پر بل یې وژني، آن کورونه وربادې ړنګوي او پر کوچنیو ماشومانو یې هم رحم نه کوي. دا ځکه چې دوی ټول استعمارګر غرب د اسلامي خلافت له را پرځولو وروسته د مسلمانانو پر سر په زور قدرت ته رسولي دي. نو پر وړاندې یې د هر مسلمان دنده دا ده، چې یو له بل سره لاس ورکړي او د دغه طاغوتي حاکمانو د له منځه وړلو لپاره هڅه وکړي او پر ځای یې د اسلامي شریعت له غوښتنو سره سم واقعي حاکم وټاکي تر څو له یوه اړخه پر مسلمانانو اسلامي شریعت پلی کړي او له بله اړخه له مسلمانانو سره په نرمي چلند وکړي.

**پایله:**

دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناوړه ولي الامر په اړه بده دُعا کړې ده او د نېک ولي الامر په اړه یې د خیر دُعا کړې ده؛ نو ټول حاکمان باید له الله سبحانه و تعالی څخه وېره او شرم

ولړي او پر اسلامي امت باندې دومره ظلم او تېرى ونه کړي، چې د قيامت په ورځ د الله سبحانه و تعالى پر وړاندې شرمينده ودرېږي.